# الله د آسمانونو او ځمکې له پیدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقدير ليکلی دی

له عبد الله بن عمرو بن العاص - رضي الله عنهما - څخه روايت دی وايې چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې فرمايل يې: «الله د آسمانونو او ځمکې له پيدا کولو څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو تقدير ليکلی دی، وايې: پداسې حال کې چې عرش يې د اوبو له پاسه و».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله پاک د ځمکې او آسمانونو له پيدايښت څخه پنځوس زره کاله مخکې د مخلوقاتو د تقدير په اړه هر هغه څه په تفصيل سره په لوح محفوظ کې ليکلي دي چې پيښيږي به: لکه ژوند، مرګ، رزق او داسې نور، او دا د هغه تقدير سره سم ترسره کېدونکي دي لکه څرنګه يې چې الله تعالى پريکړه کړې ده. هرڅه چې شتون مومي نو هغه د الله تعالى د پريکړې او تقدير سره سم کيږي. نو هغه څه چې بنده ته رسيدونکي دي هيڅکله به ترې خطا نه شي، او هغه څه چې ورته رسيدونکي ندي، هيڅکله به ور ونه رسيږي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/65038

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee